# ستا عبدالغفار

اسرار د طورو



د یوسفزي قبیلې یو شاخ په کمالزو یادېږي په طورو کښې د کمالزو مشران خانان او د پښتنو ځني خېلونه آباد دي. په دې خېلونو کښې آموخېل، زید خېل، صدیق خېل، موسٰی خېل، بوسي خېل، کومبار او غلامان هم دي او د دې نه علاوه د حضرت عبدالوهاب اخوند پنجو بابا حضرت سېد نور محمد المعروف به اخوند یونس (خاوۀ بابا) د بونېر نه راغلي قاضیان، روانې، د حضرت میا محمد حسن اولاد او د نوښار د علمي کورنۍ اخون زادګان هم اوسي. طورو د سېد حفیظ الله بابا د نومیالو زامنو او نمسو د علم او فضل په وجه د بخارائے ثاني په نوم یاد شوے دے. په نولسمه او شلمه پېړۍ کښې د طورو ځني عالمانو د هندوستان د بعضې علمي ښارونو په دیني درسګاهونو کښې خدمتونه کړي وو. په دې کلي کښې وخت په وخت غازیان، فوځي افسران، حاکمان او سیاسي لیډران هم تېر شوي دي او اوس هم شته. طورو د پښتو د شعر او ادب په دنیا کښې هم یو نوم لري. دلته کسب ګر، مزدوران او هنرمندان خلق هم اوسي. د کر کروندې ماهران هم دې کلي زېږولي دي.

د خان عبدالغفار خان (باچا خان) د خدائي خدمتګارۍ تحریک دې کلي ته اویا اتیا کاله اګاهو رارسېدلے ؤ. د طورو په خانانو، غریبو خلقو او عالمانو دې تحریک اثر غورځولے ؤ. اوس هم په دې کلي کښې په هره محله او هره کورنۍ کښې د باچا خان د خدائي خدمتګارانو اولاد نارینه او زنانه د باچا خان عقیدت مند دي. د خانانو په ګاونډ کښې د تېلو د ګانۍ هنر منده کورنۍ کښې حاجي رحمت الله، زېړشاه کاکا، عمر شاه کاکا، شېرے کاکا کشمیرے، شریف الله دکاندار او د دوي نور مشران کشران، غریب خلق وو. د رزق د حصول دپاره به ئې د شړشم او جمامې د تخم نه په ګانۍ تېل ایستل. د ګانۍ د ګرځولو دپاره به ئې خاروي ساتل. د خاروو دپاره به د ګیا کبل او دانې دونې

ضرورت ؤ نو د دوي تارتړون به کر کروندې او کرونده ګرو سره ډېر وو. د تلې تکړې او تول پاسنګ په کار پوهېدل نو د وړو او غټو زمینداراو غلې دانې به ئې په مزدورۍ تللې. د ښاروو د ساتلو نه علاوه به ئې د قصابۍ او غوښو کاروبار هم کولو. دا سلسله تر اوسه په څۀ نا څۀ شکل کښې جاري ده. نوي کُول کښې تعلیم یافته سړي هم شته چې په سرکاري محکمو کښې کار کوي.



ښاغلې شریف الله کاکا دکاندار د حاجي رحمت الله زوئ ؤ، دۀ ته د کلي په محله صدیق خېلو کښې د هندوستان د تقسیم نه پس د هري سنګهـ او جسرت سنګهـ اټې قیمتاً په لاس ورغلې وه. دا اټې د دلیل خان او منور خان ملکیت کښې وه او زبرشاه

کاکا او شریف الله کاکا به په شریکه کوله. د شریف الله کاکا په دکان کښې د اوسپنې یوه کرسۍ وه. ما په دغه کرسۍ مولانا سېد حافظ لطف الرحمان، مولانا محمد عنایت الله، مولانا محمد یعقوب، مولانا حافظ محمد ادریس، مولانا سید ګلبادشاه، خان تاج ملوک خان، خان شېرزمان خان، کرنېل یارمحمد خان موسٰي خېل، مهابت خان روانړے، مولانا حافظ عبدالنبي او نور سپین روبي ناست لیدلي وو. دا مشران عالمان ادیبان او سیاسي مفکرین او مبارزین وو. د شریف الله کاکا تعلیم رواجي هم نۀ ؤ خو شرافت او شعور پکښې ؤ. نو د دوي نه ئې اثر اخستے ؤ. دا رنګ د هغۀ په کشرانو او زامنو وخوت. نن حاجي غلام نبي او حاجي عصمت الله سم دم ملیان دي او عطاءالرحمان پهلوان خو د سمندرونو نه په لامبو راوتے دے. د هوتي په چاټو چوک کښې ئې دکان دے او د کتابونو په مطالعه کښې ورک وي. د باچا خان په تذکره موټې موټې غوښه اخلي. پاتې شو د هغۀ ورور سپائي نورالامین نو دے خو د پولیس په محکمه کښې سپائي ؤ چې ډیرې ته ئې ګورې نو د باجوړ ملک ښکاري، دکانداري کوي او د طورو واحد ګل کاکا موچي، تحسین الله کاکا او مولانا محمد عنایت الله سره ئې کلکه ملګرتیا وه. زما خو ترې نه ویره کېدله، د پولیس کارنده پاتې شوے ؤ. د خفیه رپورټونو چل هم ورتلو، عجیبه خبره دا ده چې د پولیس دا اهل کار په حضرت باچا خان ورک مئین ؤ اوس هم دے نو خلق ورته باچا خان وائي.

دا ریټائرډ کانسټېبل مسمي نورالامین عرف "باچا خان" وائي چې:

"زۀ په کالو خان تانه کښې ملازم وم هم د دغه کلي تهانګي وال چې نوم ئې تاج محمد ؤ په تاجي مشهور وو ډېر خوش اخلاقه او خوش اوازه ؤ. د پښتو تپې به ئې په مينه کولې، کله چې به باچا خان د کالو خان په حدودو کښې ؤ نو تاجي به ماته حال احوال ووې، په دغه ورځ باچا خان د شبوې کلي د خدائي خدمتګار يار محمد خان په حجره کښې ؤ، تاجي کاکا ماته ووې "چوتې واخله چې دواړه د يار محمد خان حجرې ته لاړ شو" مونږ لاړو باچا خان او نور خدائي خدمتګار ناست وو، ما سلام وکړو د باچا خان سترګې پټې وې، بيا ئې سترګې وغړولې او ماسره ئې لاس ملاؤ کړو، د کالو خان زوار بابا، د نوي کلي نظيف خان بابا، شالے کاکا، د ترکۍ غلام حېدر کاکا ناست وو، غلام حېدر کاکا ورته ووې "دا زمونږ د کالو خان په تانه کښې ملازم دے. پلار او نيکۀ ئې خدائي خدمتګار دي، ستا سلام له راغلے دے" باچا خان زما لاس کلک ونيولو وئيل ئې "پلار او نيکۀ ئې خدائي خدمتګار دي خو غلام حېدر خانه ځان ترې ساته، سرکاري فرښته ده" او بيا ئې ماته ووې "په دې کټ کښې ماسره کښېنه" ما ووې "زۀ به شالي کاکا سره کښېنم" هغوي ووې "ستا خوښه ده" بابا په ټولو ملګرو نظر واچوو نو وې وئيل:

"يارمحمده! هارون خان مې په نظر رانغے" غلامي باچا ووې "هغه زمونږ نه خفه دے" باچا خان ووئيل:

"ستاسو نه خفه دے زما نه خو نۀ دے خفه. لږ ساعت پس د کټ نه راپاڅېد، څپلۍ ئې په پښو کړې او روان شو چې هغوي روان شو نو خپل



ملګري هم ورسره روان شو او د هارون خان کاکا حجرې ته ورسېدل، هارون خان کاکا چې باچا خان وليد نو په منډه منډه راغے، ورترغاړه وتو. باچا خان هغه په خپل ترخ کښې ونيو، ښے لاس ئې ورله په سر کېښود او ورته ئې ووئيل:

"هارون خانه! زما د ژوند پورې ماسره د پښتنو دا خدمت وکړه، دا سربانډې راسره راکاړه".

هارون خان په چپه خُلۀ باچا خان سره د يارمحمد خان حجرې ته لاړ.

د دې ملاقات نه دوه نيم کاله پس د ملک آباد کلي سره مونږ ناکه بندي کړې وه، مونږ يو ګاډي ته اشاره وکړه، ګاډے ودرېدو چې زۀ ورغلم نو باچا خان د خپلو ملګرو سره په ګاډي کښې ناست ؤ، ما خپلو ملګرو ته ووئيل يا هلکه! "دا خو باچا خان دے" چې ما دا خبره وکړه نو باچا خان غلام حېدر خان ته

ووئیل "ما تاته نهٔ وې چې سرکاري فرښته ده ځان ترې ساته" بیا ئې ووئیل "دا کار ښهٔ دے ساز به درته ودرېږي غل به درنه تښتي، خطا ډېر پرې کوئ، پښتانهٔ ډېر عاجزان دي".

باچا خان جېب ته لاس کړو، ما له ئې د سلو روپو کاغذ راکړو، راته ئې وې "مونځ کوه، ماته دعا کوه، پښتنو ته هم دعا کوه" ما ورته ووې "بابا جانه! په دې کاغذ څهٔ ولیکه هغوي ووئیل "څهٔ پرې ولیکم" دا خبره پرې درنه غوندې ولګېده، وئیل ئې "ما سره قلم نشته" زمونږ مشر قلم ورکړو، باچا خان پرې ولیکل "ستا عبدالغفار".